AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

سلام خان ۲۰۱۱/۰۹/۲۹

# جهادی مشرانو دستراتیژیک تړون څخه ملا تړ اعلان کړي

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د جمهور رئيس حامد کرزي په مشرۍ ند چهار شنبې په ورځ د جهادي مشرانو، او د دولت له جيګوړو چارواکو سره د سولې د بهير د څيرنې او له امريکا او نورو هيوادونو سره د ستراتيژيکي تړون په لاره کې په ارګ کې مشورتي غونډه را بللې وو. په دې غونډه کې د جمهوري رياست مرستيالانو محمد قسيم فهيم او محمد کريم خليلي، جهادي مشرانو پروفيسر حضرت صبغت الله مجددي ، پروفيسر عبدالرب رسول سياف، پير سيد احمد ګيلاني او حاجي محمد محقق، د ولسي جرګي رئيس عبدالروف ابراهيمي، د مشرانو جرګي رئيس فضل الهادي مسلميار، ستر وزير هدايت امين ارسلا ، د جمهور رئيس سلاکار نعمت الله شهراني، د انرژي او اوبو وزارت سرپرست محمد اسماعيل، د ملي امنيت سلاکار ډاکتر رنګين دادفر سپنتا، د اقتصاد وزير عبدالهادي ارغنديوال او د جمهور رئيس سلاکار حاجي دين محمد ګډون کړي وو.



د افغانستان د اسلامي جمهوريت جمهور رئيس د دغې غونډې په پيل کې وويل نن موږ دلته راټول شوي يو چې د سولې د بهير، د هيواد د حالاتو، د امريکا له متحده ايالاتو، د اروپا له اتحاديې، برتانيه، د ناټو له سازمان او د هند له جمهوريت سره د ستراتيژيکي خبرو په باب د خپلي تګلارې د ټاکنې په اړوند خبرې او سلا مشوري وکړو. په دې غونډه کې جهادي مشرانو او دهيواد ملي او سياسي شخصيتونو وويل چې له دريو کلونو را په دې خوا له بيابيا هلوځلو او له زياتو غوښتنو سره سره چې له طالبانو څخه په هيواد کې د سولې او ثبات د تامينولو په خاطر د خبرو لپاره وشوې په بدل کې زموږ د ماشومانو، سپين ږيرو، ځوانانو او ښځو په ګډون مشران، ديني عالمان او مخور شهيدان شول.

د پروفيسر برهان الدين رباني او د نورو شخصيتونو په شهادت سره چې په دې وروستيو وختو کې د ځنځيري وژنو قرباني شوي دي، طالبانو وښودله چې په افغانستان کې د سولې د تامينولو او د خبرو لپاره په تصميم نيولو کې له ځانه هيڅ صلاحيت او واک نه لري، اوس پوښتنه دا ده چې له چا او کوم سړي سره سوله ؟ د هيواد جهادي مشرانو او ملي او سياسي شخصيتونو وويل له دريو کلونو خبرو، تګ راتګ، ښه نيت او هلوځلو سره سره چې د افغانستان له لوري له پاکستان سره د ښو اړيکو د ټينګښت او د سولې لپاره وشوې، د پاکستان حکومت په خپله خاوره کې د تروريزم د پټنځايونو دله منځه وړلو او د تروريستانو دروزنې او سمبالولو دمخنيوي لپاره کوم اقدام ونه کړ.

اوس که چيري طالبان د افغانستان پرخلاف جګړه کې د وسيلې په توګه کارول کيږي او که چيري د آی اس آی د سازمان د لاس آلې دي نو بايد د افغانستان د خبرو لوري د پاکستان حکومت وي، نه طالبان ! په همدې ډول جهادي مشرانو او ملي او سياسي شخصيتونو وويل چې له امريکا او د افغانستان له نورو دوستو هيوادونو سره د ستراتيژيکي تړونونو دې ته په پاملرنې سره چې د افغانستان ملي واکمني، خپلواکۍ او ملي ګټې په پام کې ونيسي ملاتړ کوي او په اوسنيو شرايطو کې هغه دهيواد په ګټه بولي.

د تاند د راپور پر بنسټ په کابل کې شننونکي چې د نوم له يادولو ډډه کوي وايي جهادي مشران له طالبانو سره د سولې له خبرو ډاريږي او په همدې دليل يې مخالفت کوي. دغه شننونکي پر ولسمشر کرزي هم نيوکه کوي چې په دومره مهمو مسايلو يوازې له همدغو جهادي کسانو سره خبرې کوي او د نور ملت غږ او نظر نه اوري، د دوی په وينا غوره به دا وای چې ولسمشر کرزي په داسې مسايلو کې د ټولنې له بيلابيلو برخو خلک ورغوښتي وای او يا يې هم د مجاهدو مشرانو دغه ډول خبرې يوازې ځان پورې محدودې ساتلې وای، دوی وايي دغه ډول خبرې چې دوی يې بې مسئوليته بولي، په دې مانا دي چې د کرزي له آدرسه ضد او نقيص خبرې خپريږي.

ولسمشر کرزی له يوې خوا له طالبانو سره خبرو ته د دوام ورکولو غږ کوي او له بل لورې اسلام آباد ته د نژدې کيدا هيله ځرګندوي خو ورسره بيا دا ډول خبرې د مجاهدينو د مشرانو اوري او ولس پرې خبروي .



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د پاکستان د بهرنيو چارو وزيرې حنا رباني کهر د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلۍ ته وويل، پاکستان په ګاونډي افغانستان کې د سولې ټينګښت او د متحده ايالاتو او افغانستان له حکومتونو سره همکاري ته ژمن دی، رباني کهر دا څرګندونې وروسته له هغې کوي، چې پاکستان د سې شنبه په ورځ متحده ايالاتوته خبرداری ورکړ، چې پردې هېواد د دوه مخې سياست د تور لګولو لوبه چې وايي، د اهيواد له يوې خوا د سخت دريځو ملاتړ کوي او بل لور ته هم د خپل نژدې دوست چين د ملاتړ ستاينه کوي ، نوموړی دغه خبری دملګرو ملتونو سږنی عمومی غونډی ته په وينا کی کړی دې او ويلی يی دی چی، د همکارۍ هلې ځلې او د افغانستان له خلکو سره بشپړ پيستون په سيمې کې د سولې، ثبات او سوکالي يوازينۍ لار ده، پاکستان غواړي، په خپل ټول وس او توان له نړيوالو ملګرو او په خاص ډول د افغانستان او متحده ايالاتو له حکومتونو سره، زموږ د وخت د مهمو مبارزو په دې ټاکونکو شيبو کې خپل مسئوليت ادا کړي، د يادونې ده، چې په دې وروستيو کې په افغانستان کې له يو شمېر بريدونو وروسته د پاکستان او امريکا اړيکې خرابې شوې دي، د امريکا د پوځ مشر مايک مولن په کابل کې د امريکا پر سفارت له وروستيو ډله ييزو بريدونو وروسته وويل چې د حقاني ډله د پاکستان د استخباراتي ادارې ( آی اس آی) د لاس آله ده او د کابل بريدونه يې د آی اس آی په مرسته ترسره کړي دي، خو د پاکستان د بهرنيو چارو وزېرې وويل چې ددوی حکومت د کابل د وروستيو بريدونو غندنه او د خپلو ملي ګټو لپاره د ترهګرۍ د له منځه وړلو لپاره هلې ځلې کوي، د ملګرو ملتونو عمومي غونډې ته د حنا رباني له وينا وروسته د سپينې ماڼې وياند يو ځل بيا له پاکستان څخه وغوښتل چې په دغه هېواد کې د حقاني ډلې پر ضد عمليات ترسره کړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ